د لازیاتو معلوماتو لپاره:
اندی ام ـ ا. کمبل
مملکتی رییس
+93 (0)79 813 7023
acampbell@ndi.org

NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# د افغانستان د ټاکنو په هکله نوي معلومات

2 Sept 2010: ۱۶ ورځې ټاکنو ته | د ولسي جرګي ټاکنی ، د ۲۰۱۰ کل د سیپتمبر ۱۸

ملي دیموکراتیک انستیتوت د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي دټاکنو د پروسې د څارني دندي په غاړه لري. چه اړوندی دندي به دی ټاکنو تر مخه، پرمهال او د ټاکنو څخه وروسته تر سره او تحليلوي. د څارني او اړوندو دندو لپاره ۱۴۰ نړیوال سیاسي کارپوهان او افغاني څارونکي به په ټول هیوداد کښی په څارنه بوخت وي. د لازیاتو معلوماتو لپاره زموږ بریښنا لیک دی. NDI.org او AfghanistanElectionData.org.

## یو ځل بیا افغان ټاکني: څه بدلون راغلی؟

### د تیرو پنځو کلونو او بیا د تیر کال د ټاکنو نظریه

### د سیپتمبر ۱۸ — ۲۰۰۵

- لمړني ټاکني د ولسي جرګي د ۲۴۹ څوکیو لپاره او په ۳۴ ولایتونو کې د ولایتی شوراګانو لپاره
- لمړنی پارلماني ټاکني د عمومی امتیاز په توګه په افغانستان کښني ترسره شوي.
- د ګډې ټاکنیزي اداري د دارالانشا لخوا تر سره شوې ، له کومه چې په کې ۵۴۱ نړیوالو کارکونکو ټاکنیز فعالیتونه تر څیرنی لاندی یې نیولي وې، او ۱۸۰۰۰۰ افغانی ټا کنیزو کارکونکو د ملګرو ملتونو او افغان ګډ ماموریت په چوکاټ کې په ټول هیواد کې په دندی بوخت ول.
- د شکایتونو د اوریدلو د کمیسیون جوړښت په کار پیل وکړ.

### د اګست ۲۰ — ۲۰۰۹

- دوهم ولسمشریز او ولایتي شوراګانو ټاکنی په ټولو ولایاتو کښی.
- ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولسمشر لخوا وټاکل شو نه د پارلمان لخوا
- د ۱۵۰ نړیوالو کارکونکو په شا او خوا کې د ټاکنوخپلواک کمیسیون سره د ټاکنو د اداري په چارو کښی مرسته وکړه.
- په ۲۰۰۵ کال کښې، د شکایتونو اوریدلو کمیسیون په جوړښت کې لا بیا هم ۳ نړیواله غړي د ملګروملتونو لخوا، ۲ افغانان د ستري محکمې او د افغانستان د بشر دحقونو خپلواک کمیسیون لخوا ګمارل شوي ؤ.

### د سیپتمبر ۱۸ — ۲۰۱۰

- د دوهم ځل ټاکني د ولسي جرګي د ۲۴۹ څوکیو لپاره
- د ټاکنود خپلواک کمیسیون مشر او د دارالانشا رییس پرته د ملی شورا له تایید څخه په کار وګمارل شول.
- د ولسی جرګې له مخالفت سره سره ، نوی ټاکنیز قانون د ولسمشر په فرمان منظور شو .
- د شکایتونو اوریدلو کمیشنران: دری(۳) افغان غړي او دوه (۲) نړیوال غړي د ولسمشر په فرمان وګمارل شول، خو د ولسي جرګی لخوا ورسره مخالفت وشو.
- د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو ۶۰۰۰ تنه د ټاکنو مامورین د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کښی له کارکولو څخه په تیرو ټاکنو کې د درغلیو د ترسره کولو په خاطر، منع او ګوښنه کړي شول.

## د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګی ټاکنو ته کتنه

### د ښځو د حقونو وضعیت

د ۲۰۱۰ کال ولسی جرګې ټاکنو ته ۴۰۰ تنې ښځې چې په ۲۰۰۵ کال کې یې شمیر ۳۴۴ تنو ته رسیده، په سیالي بوختې دي. له هر ولایت او کوچیانو څخه په پوره شمیر ښځینه نوماندانې دې ته تیارې دي ترڅو لږ ترلږه په ولسی جرګه کې ۲۵٪ او یا ۶۸ ښځوته ځانګړې شوې څوکې خپلې کړي .

له بده مرغه،د تیرو ټاکنو په شان دا ځل بیا هم ښځینه نوماندانی له زیاتو ستونزو سره د کمپاین پر مهال مخ وي. د ځینو مرکو پر بنسټ چې د ښځینه نوماندانو اود کمپاین له مامورینو سره ترسره شوی دی ، ډیري ښځینه نوماندانې چې په ناامنو ولایاتونو کې ټاکنو ته کاندیدې دي د امنیتي ستونزو له امله په کابل کښی ژوند کوي او کله ناکله اړوندو ولایاتو ته سفرونه ترسره کوي. د کورنیو چارو وزارت تر اوسه ښځینه نوماندانو ته کوم ځانګړی امنیتی آسانتیاوې ندی برابرې کړي، او همدارنګه د ټاکنیز مرکزونولپاره ښځینه د تلاشی مامورین هم ندی ګمارل شوي. (مهربانی وکړي دویم مخ کې ښځینه د تلاشي کارکونکو برخه وګوری)

### سیاسي وضعیت

په ۲۰۰۵ کال کښی د ملي دموکراتیک انستیتوت څارونکو د ولایتي شوراګانو او ولسي جرګې ټاکنو لپاره کمپاینونونه فعاله ښودلی ؤ. په ۲۰۰۹ کال کښی ملي دموکراتیک انستیتوت ته څرکنده شوه چې امنیتی ستونزو کمپاینونه له خنډ سره مخ کړل خو بیا هم څه ناڅه ولسمشریزو نوماندانو ټاکنیزې مبارزې تر سره کولې. د ملي دموکراتیک انستیتوت په آند سږ کلنی ټاکنې د تیرو ټاکنو څخه کمزورې بلل کیږی. په دې وروستیو کې د انستیتوت د څارونکو لخوا یو سفر د ننګرهار او هرات ولایاتو نو ته ترسره شو، په پایله کی، ګڼ شمیر کمپاینونه، د میلمستیاؤ په ورکولو سره، د دروازې په دروازې او د انځورونو په ځړولو سره مخ ته ځی چې د تیر کال په پرتله کمپاینونه کمزوری ښودل کیږی. نوی قانون سیاسی ګوندونه په حاشیه کې ساتلی . د عدلیې وزارت یواځې ۵ ګوندونه ثبت کړي کوم چې د ۲۰۱۰ کال په رأی پاڼو کې لیدل کیږي . (حال داچې په ۲۰۰۹ کې ۱۰۸ ګوندونو د ټاکنو لپاره سیالی کولې). یواځې ۳۴نوماندان به د ۲،۵۰۰ نوماندانو له جملې څخه په رأی پاڼو کې د اړوند ګوند نوم له ځانه سره ولری.

### امنیتی وضعیت

د ملي دموکراتیک د څارونکو د راپور په بنسټ په ۲۰۰۹ کال کښی، نوماندان، کمپاین کونکي، ټاکنیز کارکونکی او رایه اچونکي د ناامنه چاپیریال له امله دی ته اړ شوي ؤ تر څو خپل فعالیتونه کم کړي. هغو په ډاګه کړې وه چې مخالفو وسلوالو نا امنی په پراخه کچه د خپلو ټاکلو اهدافو په ترڅ کې رامنځ ته کړه. سږ کال د انستیتوت د څارونکو په وینا د نا امنیو د زیاتیدلو یو لامل د نوماندانو او قومی جوړښتونو ترمنځ مخالفت چې د یو د یولړ ناوړو پیښو د رامنځ ته کیدو سبب شوې، ښودل شوې دي. په داسی حال کښی چې د دولت ضد وسلوال ځواکونه هم یو خنډ پاتې دي.

په ۲۰۰۹کال کښی د ښځینه د رایه ورکولو مرکزونو د ښځینه تلاشی د کارکونکو کموالي هم د امنیتی ستونزو او هم د ښځو د کمې شمیرې برخې اخیستنې لامل شو. د ټاکنی د ورځی تر مخه د ۶۱۷۵۹ ښځینه تلاشی کونکو پوستونو څخه ۱۴۷۰۳ د نارینه ؤ تلاشی کونکو لخوا ډک شوی ؤ. سږ کال د ښځینه تلاشی کونکو موضوع تراوسه په خپل ځاې لاینحله پاتي شوي ده او امنیتی ګواښونه یې هم رای ورکونکو ته او هم ټاکنیزو کارکونکو ته په ځانګړې توګه ښځو ته پاتې ده.

## په ټاکنیزو مرکزونو کښی ښځینه تلاشی کونکې : د تیر کال ستونزې لاوس هم پرځای پاتې دي.

د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کښی، د کورنیو چارو وزارت و نشو کولای چی په پوره شمیر ښځینه کارکونکې د تلاشی لپاره په ټاکنیزو مرکزونو کښی په کار وګماري. تقریبا ۲۵٪ سلو نه دغه پوستونه د نارینه وو لخوا ډک کړي شوي ؤ. له ټاکنو څخه وروسته ملی دموکراتیک انستیتوت وړاندیز وکړ ترڅو د ښځینه ټاکنیزو مرکزونو د تلاشی لپاره ښځینه کارکونکې استخدام تر څو په ټاکنو کې د ښځو د ونډې اخیستنې حقونه پرځای وساتل شي . انستیتوت دا هم په ډاګه کړه چې د مدني ټولنې د ښځو شبکه له کومه چې د ښځو د استخدام توان یې درلود، په دې اړه د پروسې په وروستني پړاو کې په دغه مسأله کې دخیله شوه. دغه ستونزه به سږ کال بیا هم تکرارشی که چیرې افغان حکومت په دې که راڅګ نشي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د کورنیو چارو وزارت د ډېرو بحثونو څخه وروسته چې د افغان حکومت کومه اداره دغه مسوولیت پر غاړه واخلی، په پایله کې د کورنیو چارو وزارت او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې اداری لخوا یو لاربښود ولیکل شو چې په هغې کې والیانو ته لارښونه شوې ترڅو د مدنې ډلو سره په همغګی د ښځینه کارمندانو استخدام د اګست په ۲۵نیټه پیل کړي. نړیوال تمویل کونکی کوم چې دغه پروژه تمویلوي تر هغه وخته به خپل ملاتړ وځنډوي ترڅو د افغانی چارواکو لخوا یو داسې پلان دوی ته د پروژې د پلې کیدو په اړه وړاندې شي. د سیپتمبر په دویمه نیټه د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه ریاست دې ته اړ دي چې دا پلان تمویلونکو اداروته وړاندې کړي چه وروسته به هغوی د نوموړی پروژې بودیجه وټاکي.

## د ملي دموکراتیک انستیتوت د ځارنیز ماموریت په آند سیمیه ییز غوره ټکي

### ختیځ زون

ټاکنیزې سیالی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ډېر کمزوری دي آن داچې د جلال آباد په ښار کښی چې د ختیځ ننګرهار له لویو ښارونو څخه بلل کیږی. د تیر کال په پرتله ډېر انځورونه په ښار کې لیدل کیږي خو د روژی څخه د مخه ځو محدود کمپاینونه په کې ترسره شوي. امنیت ترټولوی ګواښ نوماندانو او رایه اچونکو ته شمیرل کیږي.

د ټاکنو نوی ولایتی مامور په خپله اداره کښي بدلون راوړی چی یو زیات شمیر ستونزمن مامورین یی له دندو څخه ګوښه کړي او ۱۹۰ ټا کنیز کارکونکی یې د ولسوالیو لپاره چې ۳۸ تنه یې ښځینه کارکونکې دي، په کار ګمارلی دي. ټولو کارمندانو ته قسم ورکړل شوی تر څو د درغلیو مخنیوی وکړي چی دا موضوع تیر کال له کنټرول څخه وتلې وه. پخوانی ولایتی مامور اوس مهال په زندان کښی دی چه د نوماندانو څخه په لسګونو زرو ډالر دی رشوت په اخستلو تورن دي. د دغو بدلونونو سره سره ناامنی په ننګرهار کې پنځه ولسوالی له ۲۲ څخه د رایې ورکولو په بهیر کې به خنډ رامنځ ته کړي. دغه راز له ۵۰۰ ټاکنیزو مرکزونو څخه به ۱۰۰ مرکزونه د لغمان،کنړ،نورستان او ننګرهار په ولایاتونو کښی وتړل شي.

په دې ورستیو کښی د نورستان ولایت د ټاکنو ولایتی مامور له خپلې دندې څخه استعفا وکړه. ځایی مامورین ادعا کوي چې د ۲۵،۰۰۰ څخه زیات جعلی کارتونه شتون لري او تیر کال د ۱۲،۰۰۰ څخه کمې صحیح رایی اچول شوی وې.

په نورستان او کنړ کې به ځایي ملیشې د ۲۰۱۰ کال د ټاکنیزو مرکزونه امنیت دنده پرغاړه ولری.ملي دموکراتیک انستیتوت د ۲۰۰۹ کال له ټاکنو څخه وروسته د ملیشو له دغې ونډې سره مخالفت کړي ؤ.

### لویدیځ زون

نوماندان د هرات په ولایات کښی د قومی او مذهبي مشرانو د اهمیت په اړه ټینګار کوي چه د هغوی کمپاین څخه ملاتړ وکړي. ډېر اعتماد په سیمه ییزو مشرانو د داسی ادعاګانو سبب شوه چې په ناحقه توګه د نوماندانو لخوا په دوی فشار اچول کیږی. د بیلګه په ډول، د سیمه ییز ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د کارمندانو په وینا داسی شکایتونه ثبت شوي دي چې په هغه کې یو نوماند د دولتي سرچینو څخه په خاطر ناوړه ګټه پورته کوي ترڅو هغه د یوه بل کاندید پر وړاندې کوم چې د بریښنا د یوې شخصی سیمه ییزې کمپنی څخه استفاده کوی او ټولو هغو کسانو ته چه له ده څخه ملاتړ کوي بریښنا ورکوي. د لویدیځ زون نوماندانو د راپور پر بنسټ دوی نشي کولای چه د ولایت د پلازمینی څخه بهر کمپاین وکړی. په ورستیو کښی د یو کاندید او پنځه کمپاین کونکو وژل کیدل پورتني ننګونې تصدیق وی. په هرات کښی سیمه ییزو مشرانو دا وپتیله چې د ټاکنو د لا ښه خوندیتوب لپاره په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې د آیساف ځواکونو قوی شتون اړین وبوله. د فراه په ولایت کښی ولایتی ټاکنیز مامور استعفاً وکړه او اوس په هماغه ولایت کې ټاکنیز نوماند ده. د بادغیس د ټاکنو ولایتی مامور چی د اوسنی نوماند (پخوانی مامور) پرځای وګمارل شو خو د پخوانی مامور( اوسنی نوماند) لخوا د ګواښ له امله ده هم استعفاو وکړه. داسی ښکاری چی نوموړی نوماند نوی ولایتی ټاکنیز مامورته څو تنه ورپیژندلي ؤ ترڅو هغو د ولسوالی په کچه ټاکنیز کارکونکی و ټاکي چې د هغه لخوا ردشوی ؤ. سیمه ییز اړوندې خواوې په دی آند دي چی اوسنی سرپرست مامور کوم چی د مخکنې مامور مرستیال ؤ، ټاکنیز کارکونکي یې د یوه لیک په وړاندیز سره په کار ګمارلي.

## پاملرنه: د رایه اچونکو ثبت او لست




ملګروملتونو د ۱۰۰ میلونو ډالرو څخه زیات چی ۶۵ میلونه یې د امریکا لخوا ورکړل شوي ؤ د ۲۰۰۹ کال د رایی اچونکو د نوم لیکنې د بهیر لپاره مصرف کړي. په داسي حال کښی چی د تولټاکنو مامورینو ملی دیموکراتیک انستیتوت ته وویل ځینو نوماندانو ښځینه درخواست کونکو ته پیسی ورکولي ترڅو د یو څخه زیات کارتونه تر لاسه کړی د دی په خاطر چه انځور ( عکس) اخستلو ته اړ ندی. د بشرد حقونو خپلواک کمیسیون د راپور په بنسټ د جولای د میاشتي په ۲۲ نیټه، په سهیلي ولایاتو کښی (خوست اوپکتیکا) نوماندان د رایی اچونی کارتونه د ۵۰۰-۲۰۰پاکستانی روپیو (چې له ۲،۳۱ او یا ۵،۷۷ ډالرو سره معادل دی) په مقابل کښی لاس ته راوړي. نوموړی کارتونه د پاکستان په دیرې اسماعیل خان کښی چاپیږی او کیدای شي چی د ټاکنو په ورځ ترینه په پراخه توګه استفاده وشي. د رایو د ثبت د کتاب نه شتون د ناچلو کارتونو ستونزه راپاروي. د JEMB ۲۰۰۵ کال د راپور په بنسټ د رای ورکونکو د ناځرګندې شمیرې او ثبت او دټاکنیزو مرکزونو لپاره د رای ورکونکو د کره لست د نه شتون د پروسې یوه ستره کمزورتیا بلل کیږی. او په جدی توګه سره لوژستیکی پلانونه ستونزمن کوي او د ټاکنو اداري قابلیت د خنډ سره مخ کوي ترڅو په ټاکنو کښی د درغلیو څخه مخ نیوی وکړي. د تیرو ټاکنو په شان به په ټاکنیز مرکزونو کښی د ثبت کتاب شتون ونلري.

ملي دموکراتیک انستیتوت یو ناپیلی او غیر حکومتی سازمان دی چې په افغانستان کې له ۲۰۰۲ کال څخه راپدې خوا فعالیت کوي . عمده موخه یې د د موکراتیکو نهادونو څخه ملاتړ او دهغو د پیاوړتیا په برخه کې هڅې دي ترڅو دغه باور د خلکو د برخې اخیستنې او په حکومت کې د شفافیت او حسابدهی له لارې غښتلې کړي. د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې انستیتوت۱۷۰۰ نوماندانو ته معلوماتی سیمینارونه په لار واچول. دغه راز سیاسی ګوندونو ته او ۲۴۰ ښځینه کاندیدانو ته یې هم ګټور ورکشاپونه ترسره کړي دی. انستیتوت یو لړ تخنیکی مرستې یې له FEFAسره کوم چې په افغانستان کې تر ټولو ستر کورنی ټاکنیز ځارونکې نهاد دي، هم ترسره کړي. اوس مهال انستیتوت د کاندیدانو د استازو لپاره روزنیز ورکشاپونه په لاراچولی تر څو د هغوی ظرفیتونه د ټاکنو څخه د ښه ځارنې او نظارت لپاره تیار کړي.